مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لیوال

۲۰۲۴/۰۴/۱۷

# زه او غر

## تا ته په تمه

پوهېږې ولې کېناست او روان نه شو دا غر؟
شپېلۍ ته زنګېدلو د بوډۍ په تال کي لمر
چي ما يي د ډېرو په زنګون ايښی و سر
د مور غونډۍ له ما سره ستومان نه شو دا غر

*

مور دواړه تا ته ناست يو، چي سپرلي سره به راشي
د سيند په غاړه غاړه له شنيلي سره به راشي
د تورو سپينو وريو له شرنګي سره به راشي
د شوق باراني اوښکو ته ګريوان نه شو دا غر

*

د سپيني شرشرې تر سندريزې نغمې لاندې
چي تا ته نظر مات شي، د چينو سترګي بهاندې
لمن لمن مانو شو او ګېډۍ ګېډۍ د سپاندې
بېځايه داسي شين په خپل دامان نه شو دا غر

*

هر لعل يي بدخشي شو، هر ياقوت يي يماني
يو ډنډ د لاژوردو يې په سر دی اسماني
له دومره خزانو سره ولاړ دی ارماني
لايق ستا د پيکي نه شو، پېزوان نه شو دا غر

*

راځه چي دواړه ولاړ شو د هغي ډېري خواته
د ميني کيسي وکړو د هغي ستړې اروا ته
د عشق د راز و نياز کيسي به نه سپړي هيچا ته
باور وکړه غليم د هيڅ انسان نه شو دا غر

«منم چي وطن وران شو، مګر وران نه شو دا غر
اسمان يي په سر کېوت، خو ستومان نه شو دا غر»***

---

***دا بيت د لوی شاعر، ارواښاد اسحاق ننګيال، د يوه غزل مطلع ده چي دا شعر يې په پليون کښل شوی دی.
څو ورځې روسته (د ثور اتمه) د ارواښاد ننګيال ۲۶ م تلين دی.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ